مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

شماره: ۷۸ (از ۱۴ الی ۲۱ سرطان ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## په دې ګڼه کې لاندې مطلبونه لولئ:

- مقدمه ........ ۳

## د ټاکنو د لومړنیو پایلو اعلان او روانه سیاسي لوبه

- په افغانستان کې د ټاکنو ناکامې تجربې ........ ۴
- د ټاکنیزو ډلو ستونزې ........ ۵
- سیاسي معاملې ........ ٦
- په ټاکنو کې د بهرنیو لورو رول او اغېز ........ ٦

## شنود مکالمات؛ شکست هنجارهای بین الملل

- شنود مکالمات نقض حقوق بین الملل است ........ ۸
- دوران جنگ سرد ........ ۹
- عدم الزامیت به میثاق‌های بین المللی ........ ۱۰
- شنود مکالمات در افغانستان ........ ۱۱


Election Commission






Wikileaks
Have documents the world needs to see?



# مقدمه

په دې ګڼه کې د افغانستان د ولسمشرۍ ټاکنو د دويم پړاو د لومړنيو پايلو د اعلان، په دې اړه رواني سياسي لوبې او همدا راز د شخصي مکالمو د اورېدو په تړاو، چې په دې وروستيو کې يې ګڼ شکونه او تشويشونه زيږولي دي، د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز، د اوونۍ تحليل د بورډ شننې لولئ.

* د افغانستان د ټاکنو خپلواک کميسيون د ۱۳۹۳ لمريز کال ولسمشريزو ټاکنو د دويم پړاو لومړنۍ پايلې اعلان کړې. د دغو پايلو له مخې دوکتور اشرف غني احمدزی، له خپل سيال ډاکټر عبدالله عبدالله څخه شاوخوا يو ميليون رايې مخکې دی؛ خو ډاکتر عبدالله بيا ادعا لري، چې دا پايله له پاکو رايو د ناپاکو رايو له جلا کېدو مخکې اعلان شوې ده او ده ته د منلو وړ نه ده. په ورته وخت کې د امريکا له لوري هم په پروسه کې ښکاره مداخله پيل شوې او افغانستان ته د امريکايي چارواکو د تګ راتګ ترڅنګ، د دغه هېواد ولسمشر بارک اوباما هم له نوماندانو سره د ټېليفون له لارې خبرې کړې دي.

* همدا راز په وروستيو ټاکنو کې د درغليو د تورونو د سندونو په توګه د ځينې افغان چارواکو ټېليفوني خبرې افشا شوې، چې په پراخ ډول يې پر شخصي حريم د تېري په تړاو اندېښنې راوپارولې. د افغانستان د مخابراتو وزير اميرزي سنګين ويلي، چې په افغانستان کې يوازې د ملي امنيت اداره د خلکو د ټېليفوني خبرو د اورېدو جواز لري او له دې پرته بايد د محکمې حکم موجود وي. دا چې دا ټېليفوني خبرې د چا له خوا ثبت شوې دي، تر اوسه نه ده روښانه شوې؛ خو دې پېچلې لوبې ډېرى افغان چارواکي غوسه کړي دي. همدا موضوعات، د ستراتېژيکو او سيمه ييزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحليل د بورډ له خوا څېړل شوي دي:

## د ټاکنو د لومړنيو پايلو اعلان او روانه سياسي لوبه



د ولسمشرۍ ټاکنو د دويم پړاو د لومړنيو پايلو له مخې، دوکتور اشرف غني احمدزی د ۵۶ عشاريه ۴۴ سلنه رايو په ترلاسه کولو سره، له خپل سيال ډاکټر عبدالله عبدالله څخه په غوڅ اکثريت مخکې دی. د لومړنيو پايلو له اعلان وروسته ډاکټر عبدالله عبدالله د موازي حکومت جوړولو ګواښ هم وکړ؛ مګر دا چې د ډاکټر عبدالله له خوا د ټاکنو د پايلو له منلو انکار او د بهرنيو لورو لاسوهنې د هېواد سياسي وضعيت کوم لورې ته بيايي؟ هغه پوښتنه ده، چې د ځينې نورو موضوعاتو ترڅنګ دلته شنل شوې ده.

## په افغانستان کې د ټاکنو ناکامې تجربې

د ولسمشرۍ د نوماندانو له خوا د ټاکنو د پايلو نه منلو او د ټاکنيزې پروسې تحريمولو تاريخ، په افغانستان کې د نوي ديموکراتيک نظام له لومړيو کلونو راهيسې رارون دی. د طالبانو د رژيم له نسکورېدو وروسته او د بن په کنفرانس کې د جوړې شوې لنډمهالې ادارې د قانوني مودې له پای ته رسېدو وروسته، په ۲۰۰۴ کال کې د لومړي ځل لپاره د ولسمشرۍ ټاکنې وشوې. په هغو ټاکنو کې له حامد کرزي وروسته مخکښ نوماند محمد يونس قانوني و، چې حامد کرزي د ټولو رايو ۵۶ سلنه رايې ګټلې وې او د ښاغلي قانوني ټولې رايې ۱۶ عشاريه درې سلنه وې؛ مګر يونس قانوني د ټاکنو پايلې ونه منلې. دا هغه مهال و، چې افغانانو د لومړي ځل لپاره په ټاکنو کې ګډون کړی و او د ښاغلي قانوني دغه کار د ټاکنو پر پروسه خلک بې باوره کړل.

په ۲۰۰۹ کال کې بيا هم ډاکټر عبدالله عبدالله نه يوازې دا چې د ټاکنو پايلې يې ونه منلې، بلکې د حامد کرزي او د هغه د حکومت مشروعيت يې هم تر پوښتنې لاندې باله او په سرېنيو ټاکنو کې هم ورته جريان تکرارېږي.

په تېرو څو پړاوونو ټاکنو کې د بېلابېلو لاملونو له مخې، له لویه سره د شفافو ټاکنو د ترسره کېدو لپاره شرایط برابر نه وو او د ټاکنو په ترسره کېدو سره، په افغانستان کې د ثبات د ټینګښت تمه نه وه. په تېرو ټاکنو کې د پراخو درغلیو لپاره په سیستم کې لار هواره وه او په تېره بیا د امنیتي ځواکونو او د ټاکنو د کمیسیون د سیمه‌ییزو دفترونو د غړو له خوا، په ناامنو سیمو کې د درغلیو شونتیا ډېره زیاته وه او همدغو درغلیو د ټاکنو په وروستي پړاو کې یوه لوري ته دا پلمه په لاس ورکړه، چې د خپلې ماتې د توجیه لپاره پر ټوله پروسه د بطلان کرښه راکاږي.

په ټولیز ډول د دغو کلونو د ټاکنو تجربې وښودله، چې د افغانستان شرایطو ته په کتو سره، تر ډېره د ولسواکۍ تجربې دلته بې‌نتیجې دي او ډېری افغان سیاستوال، یوازې د ولسواکۍ هغه پروسې منلی شي، چې دوی واک ته ورسوي او بس. له بلې خوا تېرو پړاوونو دا وښوده، چې د ټاکنو په اړه د ډېموکراسۍ نارو تر ډېره نمایشي بڼه هم درلوده او په یو ډول په ټاکنو کې ستونزې راجوړې شوې دي او بیا بهرنیانو په خپله ګټه حل او فصل کړې دي.

## د ټاکنیزو ډلو ستونزې

هغه څه مو چې د ټاکنو په پخوانیو پروسو کې ولیدل، دا وو، چې تر ډېره دوه ډوله شخصیتونه په ټاکنیزه سیالۍ کې سره مخ کېدل؛ لومړی هغه کسان چې په بهر کې یې لوړې زده‌کړې کړې وې، په ډېموکراسۍ او ولسواکۍ یې باور درلود، تر ډېره د لوېدیځ ملاتړ ورسره و او په عین حال کې یې د یوه ولسواک نظام د ټینګښت لپاره طرحې هم درلودې. بل لوری بیا په ۲۰۰۴ کال کې هم او په ۲۰۰۹ او ۲۰۱۴ کلونو کې هم داسې کسان وو، چې په تېرو کورنیو جګړو کې ښکېل او خپله همدا سابقه یې د بریا راز بلله. د هغوی تر شا ډلې د بن د کنفرانس له مهاله بیا تر اوسه، په حکومت کې هم انحصاري او سهامي رول درلودلی دی.

په ۲۰۱۴ کال ټاکنو کې د لومړۍ کټګورۍ مخکښ نوماند بیا هم داسې څوک دی، چې په بهر کې یې لوړې زده‌کړې کړې دي او د نړیوال کار تجربه لري؛ خو په خپل ټیم کې یې بیا هم داسې ترکیب جوړ کړی، چې د سیال ټیم په څېر هغوی هم ډېری یې له ډېموکراسۍ او ولسواکۍ سره، د خپل نظر او تجربې مطابق چلند لري. له همدې امله له لومړي سره دا وېره له دواړو لورو وه، چې بایلونکی لوری به د بایلو د منلو زغم ونه لري؛ ځکه داسې برېښېده، چې د ولسواکۍ نارې یوازې د واک د ترلاسه کولو لپاره وهل کېږي.

د دې ترڅنګ له بېلابېلو بهرنیو هېوادونو او کړیو سره تړاو، د افغانستان پخوانۍ ستونزه ده، چې هر ځل یې د ټاکنیزې پروسې په دواړو ډلو کې څرک لیدل کېږي او د ټاکنو پر پروسې خورا زیات اغېز ښندي.

## سیاسي معاملې

د دویم پړاو ټاکنو د لومړنیو پایلو له اعلان وړاندې د سیاسي معاملې انګېزه په ټولو لورو کې پیاوړې شوه، ان تر دې چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشر هم، چې په اوسني نظام کې د ولسمشر د ټاکلو د پروسې د یوازېني ارګان مشر دی، د دارنګه معاملې ننګه کوله.

د پردې تر شا د سیاسي معاملې پر سر بحثونه د دې لامل شول، چې یو شمېر لورو د خپلې ونډې د زیاتولو لپاره پر خپلو مخالفتونو ټینګار وکړ او ځینې نورو بیا د خپلو دربیمګړو طرحو وړاندې کولو ته زړه ښه کړ، چې په پایله کې یې په لوړه کچه بهرنیو مداخلو ته هم لار هواره شوه. دې چارې له عامو افغانانو سره د ټاکنو د رول په اړه بېلابېلې پوښتنې راپورته کړې او په پراخ ډول پر ټاکنیزه پروسه د خلکو باور راکم شو.

له یوې خوا داسې انګېرنې هم شته دي، چې سیالې ډلې له دغه راز مخالفتونو او بېلابېلو غوښتنو سره د سیاست په ډګر کې ځانې وهي او په نظام کې خپلې راتلونکې ونډې پراخوي؛ خو د افغانستان د ثبات او امنیت په اوسني حالت کې دا ډول اقدامات کولی شي، له یوې خوا هېواد د بې‌ثباتۍ په لور بوځي او له بلې خوا پراخو بهرنیو مداخلو ته هم لاره هواروي.

## په ټاکنو کې د بهرنیو لورو رول او اغېز

په ۲۰۰۹ کال کې کله چې یوه نوماند هم ۵۰ سلنه+۱ رايې ترلاسه نه شو کړای، هغه مهال له ډاکټر عبدالله عبدالله او حامد کرزي سره د ټاکنو د پایلو په اړه خبرو کولو لپاره جان کیري کابل ته راغی، چې د سفر پایله یې رغنده وه او ډاکټر عبدالله عبدالله د ټاکنو دویم پړاو ته له تګ څخه تېر شو.

جان کیري د امریکا ولسمشر بارک اوباما ته نږدې کس بلل کېږي، چې په ۲۰۰۹ کال کې سناتور و او اوس د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر دی. په ۲۰۰۹ کال کې د دواړو نوماندانو تر منځ د ټاکنو د ستونزې هوارول، د جان کیري لپاره یوه ډیپلوماتیکه بریا وه، چې له همدې امله دغه امریکايي سناتور په ۲۰۱۰ کال کې هم د ولسمشر کرزي له خوا د خصوصي امنیتي شرکتونو د له منځه وړلو د موضوع په اړه او په بېلابېلو وختونو کې د نورو چارو د حل او فصل لپاره کابل ته استول شوی دی.

دا چې په وروستیو ټاکنو کې هم د امریکا رول جوت دی، د لومړنیو پایلو له اعلان وروسته ډاکټر عبدالله عبدالله په یوه غونډه کې ویلي، چې له جان کیري سره غږېدلی او نوموړی به کابل ته راځي او د ټاکنو په موضوع کې به مداخله کوي. د دې ترڅنګ د لومړنیو پایلو تر اعلان مخکې هم څو تنه امریکايي سناتوران کابل ته راغلي وو او څو ورځې یې په دې اړه دلته له بېلابېلو

لورو سره بحثونه درلودل. خو د دغو امریکایي چارواکو له اړیکو او بحثونو سره سره، ناخوښ نوماند د موازي حکومت د اعلانولو ګواښ وکړ.

د ډاکټر عبدالله له دغو څرګندونو وروسته د امریکا ولسمشر بارک اوباما هم له نوماندانوسره د ټېلېفون له لارې په خبرو کې، له ناقانونه لارو د واک نیولو او ناقانونه کړنو په صورت کې د امریکا د همکارۍ بندولو ګواښ وکړ. که څه هم له دویم پړاو ټاکنو وروسته په پراخ ډول بحران جوړولو ته لمن وهل کېږي او د احتمالي بحران د رامنځته کېدو وېرې شته دي؛ خو د افغانستان اوسنیو شرایطو او د نړیوالې ټولنې دریځ ته په کتو سره، په دې اړه ډېره اندېښنه نه ترسترګو کېږي. مګر په ټاکنو کې د ټاکنیزو کمیسیونونو پر ځای د بهرنیانو پراخ رول او د نوماندانو له خوا د بهرنیو لورو پر منځګړیتوب تکیې کولو، پر ټاکنو د افغانانو د باور راکمېدو ترڅنګ د پروسې د ناکامۍ معنا ودرلوده او د راتلونکې لپاره یې د دې پروسې بریا له ستونزو سره مخ کړه.

په ټولیز ډول داسې ښکاري، چې دغې ولسواکې پروسې د افغانانو لپاره هغه پایله له ځان سره نه درلوده، چې تمه یې ترې درلوده؛ مګر بالعکس بهرنیان له بېلابېلو لورو هڅه کوي، چې په افغانستان کې د یوه نسبي ځواکمن نظام د رامنځته کېدو مخنیوی وکړي. داسې برېښي، چې د دغې پروسې په پایله کې به افغانستان د بحران په لور ځي، هغه که کومه سیاسي معامله وي او که د پایلې له منلو پرته، د بلې هرې حل لارې له مخې، رامنځته کېدونکی حکومت وي.

## شنود مکالمات؛ شکست هنجارهای بین الملل



به نظر می‌رسد که در جهانی که ما در آن زنده‌گی می‌کنیم، زنده‌گی انسان‌ها مانند موجودات مایکرسکوپی زیر نظر قدرت‌های سلطه‌گر قرار دارد. وقتی انسان نتواند مکالمات و مراسلات خود را از تعرض و شنود مصؤون نگه‌دارد، خود را از نظر روحی برهنه احساس می‌کند که تمام زوایای زنده‌گی‌اش توسط موجودی بنام دولت یا دولت جهانی، زیر نظر گرفته شده است.

ادوارد سنودن قراردادی سازمان سیای امریکا که بعدا به روسیه پناهنده شد، پرده از رازهایی برداشت که نشان می‌دهد، ایالات متحدهٔ امریکا حتی مکالمات یاران خود مانند صدراعظم آلمان را نیز از سال‌ها قبل شنود می‌کرده است. این شنود تنها به تلیفون خانم میرکل خلاصه نمی‌شود بلکه مکالمات ده‌ها تن از رهبران جهان را شامل می‌شود که اکثراً از یاران امریکا به شمار می‌آیند.

پس برعکس آنچه که گفته می‌شود، هدف این شنودها از جانب امریکا، فقط به تروریزم و یا جنایات سازمان یافته خلاصه نمی‌شود بلکه گستردهٔ وسیعی را در بر می‌گیرد که هدف از آن برقرار نگه‌داشتن سلطهٔ امریکا بر جهان است و برای برقرار نگه‌داشتن این منظور لازم است تا امریکا بداند که در ذهن رهبران جهان چه می‌گذرد.

### شنود مکالمات نقض حقوق بین الملل است

ایالات متحدهٔ امریکا بعد از یازدهم سپتامبر به بهانهٔ مبارزه با تروریزم، تمام معیارهای حقوق بین الملل را زیرپا نموده و باز تعریفی زورگویانه از آن معیارها را، در عمل ارائه داده است.

اعلامیۀ جهانی حقوق بشر که ظاهراً دستورالعمل مقدس دیموکراسی غربی است و در بسیاری از موارد معیاری برای شناخت یک کشور به عنوان کشور مطلوب و یا نامطلوب از منظر حقوق بشری از جانب امریکا به کار گرفته می‌شود، در مادۀ 12 چنین می‌گوید: «احدی در زنده‌گی خصوصی، امور خانواده‌گی، اقامتگاه، یا مکاتبات خود نباید مورد مداخله‌های خودسرانه واقع شود و شرافت و اسم و رسمش مورد حمله قرار گیرد. هرکس حق دارد که در مقابل اینگونه مداخلات و حملات مورد حمایت قانون قرار گیرد.»

میثاق بین المللی حقوق مدنی وسیاسی نیز مؤید همین حق است. این میثاق یکی از عهدنامه‌های سازمان ملل متحد بوده که بر پایۀ اعلامیۀ جهانی حقوق بشر استوار می‌باشد و در 22 مارچ 1976 لازم الاجراء گردیده است. در مادۀ 17 این میثاق آمده است:

1- هیچکس نباید در زنده‌گی خصوصی و خانواده و اقامتگاه یا مکاتبات مورد مداخلۀ خودسرانه (بدون مجوز) یا خلاف قانون قرار گیرد و همچنین شرافت و حیثیت او نباید مورد تعرض غیرقانونی واقع شود.
2- هرکسی حق دارد در مقابل اینگونه مداخلات یا تعرض‌ها از حمایت قانون برخوردار شود.

تفاوت مادۀ 17 این میثاق با مادۀ 12 اعلامیۀ جهانی حقوق بشر در این است که در مادۀ 17 "تعرض غیرقانونی" ذکر شده است که این خود به معنای به رسمیت شناخته شدن مداخلات قانونی است که اگر نظر به دلایلی یک مرجع دولتی دست به این کار می‌زند، باید قبل از اقدام، از مراجع قضایی به کسب مجوز بپردازد و به هیچ صورت حق مداخلۀ بدون مجوز را ندارد.

همچنان بند دوم مادۀ 18 حقوق بشر اسلامی نیز می‌گوید:

ب- هر انسانی حق دارد که در امور زنده‌گی خصوصی خود (در مسکن، خانواده، مال و ارتباطات) استقلال داشته باشد و جاسوسی و نظارت بر او یا مخدوش کردن حیثیت او جایز نیست و باید از او در مقابل هر گونه دخالت زورگویانه در این شئون حمایت شود.

## دوران جنگ سرد

در دوران جنگ سرد امریکا از اعلامیۀ جهانی حقوق بشر علیه شوروی و اقمارش و نیز کشور چین به عنوان یک حربه استفاده می‌کرد و این کشورها را به دلیل محدودیت‌هایی که بر اتباع شان بخصوص در امور مربوط به ارتباطات تحمیل کرده بودند، مورد انتقاد قرار می‌داد. در سال 1977 در کنگرۀ بین المللی حقوق‌دانان در استکهلم سویدن، یکبار دیگر بر

احترام بر کرامت انسانی تأکید نمود و تصریح کرد که انسان باید در مقابل مداخلات وتعرضات ذیل مورد حمایت قانونی قرار گیرد:

1- هرگونه مداخله در زنده‌گی خصوصی خانواده‌گی و داخلی

2- هرگونه تعرض به سلامت جسمی یا روحی و به آزادی اخلاقی یا معنوی او

3- هرگونه تعرض به شرافت و شهرت او

4- هرگونه تفسیر مضر و سوء، از گفته‌ها و اعمال وی

5- افشای بی‌موقع امور ناراحت کننده، مربوط به زنده‌گی خصوصی او

6- استفاده از اسم او، هویت او، عکس او

7- هرگونه فعالیت به منظور جاسوسی کردن درباره او

8- در کمین او نشستن او را تحت نظر قرار دادن و عرصه را بر او تنگ کردن

9- افشای اطلاعاتی که او داده یا گرفته برخلاف قاعده حفظ اسرار مربوط به شغل یا حرفه

## عدم الزامیت به میثاق‌های بین المللی

میثاق‌های بین المللی بیشتر مبین طرزالعمل‌های اخلاقی است و ضمانت اجرایی آن فقط الحاق کشورها به این میثاق هاست. امریکا می‌تواند کشورهای دیگر را بخاطر نقض این گونه میثاق‌ها تحت فشار قرار داده و مثلاً مورد تحریم اقتصادی قرار دهد؛ اما دیگران نمی‌توانند فشار مشابه بر امریکا وارد سازند. مثلاً پس از افشای شنود مکالمات صدراعظم آلمان از جانب امریکا، کشور آلمان فقط از این مسئله ابراز نارضایتی کرد و سپس از روی ناچاری توجیهات ناموجه امریکا را در این خصوص پذیرفت.

## شنود مکالمات در افغانستان

ادوارد سنودن افشاگر رازهای سازمان سیا افشا کرد که افغانستان کشوری است که مکالمات تیلفونی تمام اتباع آن شنود می‌شود. بنابراین می‌توان گفت که حقوق اتباع افغانستان بیش از هر کشوری زیرپا شده است در حالیکه مادۀ 37 قانون اساسی افغانستان می‌گوید:

مادۀ 37: آزادی و محرمیت مراسلات و مخابرات اشخاص چه به صورت مکتوب باشد و چه به وسیلۀ تلفون، تلگراف و وسایل دیگر، از تعرض مصون است.

دولت حق تفتیش مراسلات و مخابرات اشخاص را ندارد، مگر مطابق به قانون.

از این مادۀ قانون می‌توان دریافت که اگر ضرورتی به تحت نظارت گرفتن مکالمات اشخاص باشد، فقط مراجع مسؤول دولتی و با گرفتن مجوز از مقامات قضایی می‌توانند این کار را انجام دهند نه افراد و یا نهادهای غیر دولتی. اگر یک کشور خارجی دست به این کار بزند، به معنی زیرپا نمودن قانون اساسی و نقض حاکمیت ملی افغانستان است. پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (+93)